# د آخرت په ورځ ایمان لرل

**لغة البشتو**



## الإيمان باليوم الآخر

# د آخرت په ورځ ایمان لرل

❖ د آخرت په ورځ ایمان لرل: د ایمان له ارکانو څخه دی.

❖ الله تعالی په خپل سپېڅلي کتاب کې په نولسو ځایونو کې یی په الله تعالی باندې ایمان لرلو سره په آخرت باندې ایمان لرل یوځای ذکر کړی.

❖ او په دې یې ټینګار کړی چې دا ورځ خامخا راتلونکې ده او ددې ورځې نه د خلاصی او تیختې هیڅ لار نشته.
الله تعالی فرمایي: ﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۗ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثٗا ٨٧﴾ [النساء: ٨٧]. ، " الله تعالی هغه ذات دی چې له هغه پرته بل حق معبود نشته تاسو به خامخا د قیامت ورځ ته راجمع کوي، په دې کې هیڅ شك نشته او له الله تعالی نه په خبرو کې څوک ډېر زیات ریښتینی دی؟"

❖ او په آخرت باندې د ایمان لرلو معنا دا ده چې انسان سره چې د مرګ نه وروسته څه پیښیږي د هغې په هکله چې الله تعالی په خپل کتاب کې او رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیثو کې څه ذکر کړي په هغې باندې پوره یقین لرل . او بیا د هغې مطابق عمل کول.

- په آخرت باندې ايمان لرلو کې دا هم داخليږي چې د قيامت په نښو نښانو باندې ايمان راوړې، په مرګ ايمان او په هغه څه ايمان لرل چې له مرګ وروسته پيښږي، لکه قبر کې پوښتنې، د قبر عذاب او نعمتونه، او په شپېلۍ کې پوکی کيدل او دويم ځل لپاره بيا راپاڅېدل او د ټولو خلکو د حشر په مېدان کې راجمع کېدل، او په دې ورځ د خلکو نور احوال.

- او د الله تعالی سره ملاقات باندې ايمان، د أعمالو پيش او حساب او د ظالم څخه د مظلوم لپاره انتقام اخيستل او د عمل نامو په خلاصولو چې څوک به خپله عملنامه په ښي لاس اخلي او څوک به يې په چپ لاس.

- دارنګه ايمان لرل داعمالو په تللو او پل صراط، اود رسول الله صلی الله عليه وسلم حوض باندې، او په شفاعت او جنت او دوزخ باندې .

- که دا ايمان د بنده په زړه کې واقع شي، نو دا به د هغه لپاره ډېرې ګټې ولري : لکه په عباداتو کې ترغيب او تشويق او نيکيو په کولو کې حرص کول او د ثواب د حاصولو په اميد.

- دآخرت د ورځې د عذاب له وېرې نه به ګناه نه کوي او نه به پرې راضي کيږي .

- د مؤمن لپاره تسلي د هغه نعمتونو په هکله چې دنيا کې ترې

پاتې کيږي په دې امید چې دآخرت نعمتونه به ورته ورکړل شي.

- ❖ په آخرت باندې ایمان د مؤمن روح او احساساتو ته سکون او سلامتیا ورکوي، او پرېشانۍ، غصه او نا امیدي ترې لېرې کوي. په آخرت باندې ایمان د اخلاقي ارزښتونو ساتونکی دی، او د دنیا د مالونو په وړاندې د سختې مبارزې یو خنډ دی.

- ❖ که بنده پوه شي چې هغه ورځ راروانه ده نو په دې کې هیڅ شک نشته چې د هغې تیارۍ لپاره پډې ووهي.

الله تعالی فرمایي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨ ﴾ [الحشر: ١٨]،

"ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی له الله نه ووېرېږئ او یو نفس دې وګوري چې سبا لپاره یې څه لیږلي او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله په هغه څه خبر دی چې تاسو یې کوئ".

**وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.**